# د بابائې امن باچا خان په مرګ

ماصل خان آتش

د باچا خان ؤ داسې مرګ چې پرې دنیا وژړل
دغسې نۀ چې بس یواځې پښتونخوا وژړل

دا داسې مرګ ؤ چې ماتم پرې فضاګانو وکړو
د لوړ خېبره سلګۍ پورته شوې هر چا وژړل

سلګو سلګو کښې اباسین لنډي ته غاړه وتو
د خېرابـاد د غرو چینو ورسره لا وژړل

چې ئې غمخور له دې دنیا نه په سفر روان شو
لرو او برو پښتنو بې انتها وژړل

د حریت د قافلې دا نر سالار چې لاړو
په ازادۍ باندې مئینو په رښتیا وژړل

افغانستان او هندوستان کښې لوئې ماتم وشولو
مظلوم قامونو په ارمان د ایشیاء وژړل

علمبردار د امن سولې او خورې ورورولۍ
چې په مرګ لاړو ورپسې شاه او ګدا وژړل

تل ئې په ژوند کښې اې آتشه چې په کاڼو ویشتو
نن هم هغوي په جدایۍ کښې د بابا وژړل

د هشنغر نه خبر راغے
د باچا خان لښکرې څان سمبالوینه

بابا واپس د جبله راغے
زما لالے د چارسدې نه نۀ راځینه

# پېغام

سلمٰې شاهین

زما محبوبه! اے جانانه دومره مۀ یرېږه
تۀ خو د فکر ښۀ لوبغاړے ئې یرېږې ولې
هر انقلاب هم د ښۀ فکر نتیجه وي راځي
زما محبوبه! اے جانانه دومره مۀ یرېږه
زۀ ښۀ پوهېږم په ډاډه لاسونه نۀ را کوې
په دې خبر یم غریبي د سرمایه مخې ته نۀ شي راتلے
تۀ خو یو ځل په خپله پوهه اعتبار وکړه
یو ځل خو والوځه یواځې خپل پرواز وګوره
راځه په ما پسې راځه نورې اسرې ورکې کړه
راځۀ زمرے شه ګیدړانو ته لار مۀ ورکوه
راځه راځه چې سره یو شو دا نظام بدل کړو

# په خاطر د امن

انور زېب سحر

راځئ چې ټول یوه جرګه شو په خاطر د امن
هره حُجره کښې مرکه شو په خاطر د امن

په دغه خاوره چې مزدور ته خپل مقام ورکړو
هله به مونږ د څۀ جوګه شو په خاطر د امن

چې د نړۍ نه د غټانو دا نظام ختم کړو
بیا به د وخت سره په خُلۀ شو په خاطر د امن

چې د حقدار تر کوره حق په خپله ورسوو
څنګ به د یو بل نه ګیله شو په خاطر د امن

دغه تیارې به شي روښانه سباوون سحره
چې د خپل کورونه راپره شو په خاطر د امن

## پېښور

ممتاز اتمان خېل

بل پکښې اورونه دي انګار شو پېښور
بيا د چا اوړستړګي نظر ښکار شو پېښور

دلته سرۀ ګلونه وو خندا وه د حسينو
دلته تلۀ راتلۀ وو د ګلرنګه نازنينو
دلته رڼاګانې وې ښکلا وه پسرلي وو
دلته ديدنونه وو ارزان د ماه جبينو

ډک د هنګامو د انتشار شو پېښور
بيا د چا اوړستړګي نظر ښکار شو پېښور

دلته محفلونه وو، نغمې وې سرودونه وو
هر خوا ته خوارۀ د بلبلانو اوازونه وو
دلته د الفت په تار پئيلي خلقو زړونه وو
دلته خوارۀ شوي په هر بام و در رنګونه وو

اوس خو وينې وينې دے داغدار شو پېښور
بيا د چا اوړستړګي نظر ښکار شو پېښور

دلته مينه مينه ورورولي وه محبت ؤ
دلته خو په زړۀ کښې خاکساري وه شرافت ؤ
دلته مړنو ته پېرزوئينې عقيدت ؤ
دلته د نفرت د سوداګرو نه نفرت ؤ

نن پکښې تيارې دي په ازار شو پېښور
بيا د چا اوړستړګي نظر ښکار شو پېښور

## دَ پښتون اواز

دلاور خاموش

ځۀ دَ چا پروا کوم پښتون يمه
ننګ په پښتونخوا کوم پښتون يمه

نۀ منم په دې سيمه اختيار دَ بل
تل خپله رضا کوم پښتون يمه

پت پالم ښېګړه کړم تُورزن يمه
کلک لوظ دَ وفا کوم پښتون يمه

حق غوښتل ګناه کۀ دَ پښتو وي نو
زۀ دغه ګناه کوم پښتون يمه

اے دَ غېرت مندو پښتنو خاورې
فخر زۀ په تا کوم پښتون يمه

زۀ چې اراده وکړم دَ ځۀ نو بيا
هغه په رښتيا کوم پښتون يمه

خدايه پښتانۀ سره يو موټے کړې
تل دغه دعا کوم پښتون يمه

يمه دلاور دَ منصور کشر ورور
تل به حق وېنا کوم پښتون يمه